هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زیات محبوب وي، یعنې (د ذی الحجې) لس ورځې

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زیات محبوب وي، یعنې (د ذی الحجې) لس ورځې،، هغوی وویل: اې د الله جل جلاله رسوله! او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه؟ هغه وفرمایل: او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره وتلی وي او له هغې څخه هېڅ شی بیرته رانه ورې».

[صحيح دی] [البخاري او أبو داود روایت کړی دی او الفاظ د هغه دي]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د ذوالحجې په لومړیو لسو ورځو کې نیک اعمال د کال له نورو ټولو ورځو څخه غوره دي. صحابه کرامو رضی الله عنهم له رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې لسو ورځو پرته په نورو ورځو کې د جهاد په اړه پوښتنه وکړه، چې آیا جهاد غوره دی که نه؛ پدې لسو ورځو کې نور نېک عملونه غوره دي؟ ځکه هغوی باوري وو چې جهاد تر ټولو غوره عمل دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: پدې ورځو کې نېک عمل په نورو وختونو کې له جهاد څخه غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې ځان او مال د الله جل جلاله په لاره کې په خطر کې واچوي ، نو مال له لاسه ورکړي او ساه یې هم د الله جل جلاله په لاره کې وخیږي. نو دا هغه څه دي چې پدې مبارکو ورځو کې له نېک عمل څخه غوره دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6255

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee